# خپل ماليات په وړيا توګه ثبت کړئ!

کېدای شي تاسو ددې مستحق ياست چې د يو کارپوه مالياتي خدماتو د چمتو کونکي سره مو ماليات په وړيا توګه ثبت کړئ.

***آنلاين يا د VITA (د عايداتي ماليې د رضاکاره مرستندويه برنامې) په ويبپانه کې په وړيا توګه د مالياتو د ثبتولو مرسته ترلاسه کړئ!***

تاسو کولای شئ فدرالي مالياتي کريډيټ لکه د لاسته راوړي عايداتي مالياتي کريډيټ (EITC) او د ماشومانو د مالياتي کريډيټ (CTC) او دولتي کريډيټ لکه د کاليفورنيا EITC (CalEITC) او د تنکيو ماشومانو مالياتي کريډيټ (YCTC) لپاره مستحق ياست، چې په دې سره کولای شئ پيسې بېرته وسپموئ. زموږ د مالياتي چارو باوري چمتو کونکي به وګوري چې ايا تاسو د نورو موجوده مالياتي کريډيټ لپاره وړ ياست که نه، ترڅو په حد اکثر اندازه تاسو ته بېرته خپلې پيسې درکړل شي يا هغه مقدار را کم کړئ چې پر تاسو باندې وضع شوی دی. اجازه راکړئ چې ستاسو سره د هغه پيسو په بېرته ترلاسه کولو کې مرسته وکړو چې تاسو يې مستحق ياست!

## څوک يې مستحق دي؟

د انفرادي ماليه ورکونکو (ITIN) د پېژندنې شمېره په شمول هغه افراد/کورنۍ چې لاندې عايد ترلاسه کوي:

- **1 ډالر – 67,000 ډالر** په کال کې دوی کولای شي وړيا مالياتي مرسته ترلاسه کړي او ممکن د فدرالي مالياتي کريډيټ د ادعا کولو وړتيا ولري
- **1 ډالر – 31,951 ډالر** په کال کې ممکن د اضافي دولتي مالياتي کريډيټ لپاره مستحق وي

## هغه څه چې تاسې به ورته اړتيا لرئ

- عکس لرونکی د هويت کارټ
- ټولنيز امنيتي کارټ يا ITIN د خپل ځان او نورو اړوندو کسانو لپاره
- د عايداتي اسنادو په شمول W2s يا 1099s
- د مستقيمي تاديې لپاره د بانکي حساب معلومات
- د ښوونځي د زده کړي فيس يا د زده کونکي د قرضې سود اظهارليکونه
- د خپل ځان او هر اړوند شخص لپاره د روغتيايي پوښښ نيتي

## د دوسيه بندۍ طريقه

- د دې لپاره چې وګورئ ايا تاسو ددې برنامې وړ ياست او د ملاقات لپاره وخت ونيسئ، نو مهرباني وکړئ **2-1-1** شمېرې ته **زنګ ووهئ** يا **myfreetaxes.org** ته مراجعه وکړئ.
- د مالياتي چارو د چمتو کولو خدمات په څو ژبو کې شته.
- وړ اشخاص کولای شي په حضوري توګه د ماليې په چارو کې مرسته ترلاسه کړي يا کولای شي په انلاين ډول په myfreetaxes.org کې په وړيا توګه دوسيه ثبت کړي.

---

د نورو مالوماتو لپاره **2-1-1** شمېرې ته زنګ ووهئ يا **myfreetaxes.org** ته مراجعه وکړئ!

SAN DIEGO COUNTY EITC Earned Income Tax Credit COALITION

*دا برنامه تاسو ته د سن ډیاګو ښارګوټي د EITC ایتلاف او لاندې شریکانو لخوا وړاندې شوې ده:*

IRS · 2-1-1 San Diego · United Way of San Diego County · County of San Diego Health and Human Services Agency · Live Well San Diego · CSD · Cal EITC 4 me